# الْبَخِيلُ مَنْ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ». «بخيل هغه څوک دی چې زه ئې په وړاندې یاد شم او درود راباندې ونه وایي

له حسين بن علي بن ابي طالب رضي الله عنهما څخه روایت دی وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «الْبَخِيلُ مَنْ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ». «بخیل هغه څوک دی چې زه ئې په وړاندې یاد شم او درود راباندې ونه وایي».
[صحیح دی] [الترمذي او النسائي په سنن الکبری او احمد هم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه د نوم، لقب او صفت په اوریدلو سره پر هغه د درود نه ویلو په اړه خبرداری ورکړی او فرمایلي یې دي چې: بشپړ بخیل هغه څوک چې زه یې پر وړاندې یاد شم او درود راباندې ونه وایي، ځکه چې: لومړی: دا په داسې یو څه بخل دی چې له امله یې هیڅ شی له لاسه نه ورکوي؛ نه لړ او نه ډېر، نه پرې پیسې ورکوي او نه پرې زیات زیار باسي. دویم: دې انسان په خپل ځان بخل وکړ او په رسول الله صلی الله علیه وسلم د درود ویلو له امله یې له ثواب څخه محروم کړ؛ ځکه چې په درود نه ویلو سره یې د داسې یو حق له ادا کولو ډډه وکړه چې ادا کول یې پرې لازم و، ځکه چې امر ورته شوی او ثواب پرې تر لاسه کیږي. دریم: په درود وییلو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حق یوه برخه ادا کیږي، ځکه چې هغه موږ پوه کړي یو، موږ ته یې لارښوونه کړې، او همغه موږ د الله جل جلاله لارې ته بللي یو، او دا وحی او دا شریعت یې موږ ته راوړی، نو هغه -له الله جل جلاله وروسته- زموږ د هدایت لامل دی، نو څوک چې پرې درود نه وایي هغه په خپل ځان او خپل نبي صلی الله علیه وسلم بخل کوي، او تر ټولو کوچنی حق یې نه ادا کوي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee